قرآني بيان

# د خوږ آقا صلَّی اللہ علیْہ وَاٰلہٖ وسلَّم
# د خَتمِ نبوت شان

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

12-September-2025

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 12 ستمبر، کال 2025ء (بمطابق: 18 ربيع الاول، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خَتمِ نبوت شان

پـه دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- لوحِ محفوظ او عقيده ختمِ نبوت
- زما نه پس يو نبي يا رسول هم نشته
- د ختمِ نبوت نه د منکرو خلقو عبرتناک انجام
- د قاديانيانو چالونه

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

شفاعت كوونكي آقا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې پهٔ ما باندې سحر او مابنام 10، 10 كرته دُرُودِ پاک لولي، د قيامت پهٔ ورځ به د هغهٔ زما شفاعت نصيب كيږي- (1)

| | |
|---|---|
| ہمیں جائیں گے خُلد میں سب سے پہلے | نبی کے ہیں ہم اور جنّت نبی کی |
| بنائے گئے ہم شفاعت کی خاطر | ہمارے لئے ہے شفاعت نبی کی (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک پهٔ قرآنِ كريم كښې فرمائي):

مَا کَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِکُمْ وَلٰکِنْ رَّسُوْلَ اللّٰہِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ط

وَکَانَ اللّٰہُ بِکُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا ﴿۴۰﴾ (پاره:22، سورۀ الاحزاب:40)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1 … ترغيب وترهيب، كتاب: نوافل، صفحه:223، حديث:29۔

2 … قبالۀ بخشش، صفحه:313۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ د 22 سيپارې، د سورۀ اَحزاب د آيت: 40 د اوريدو سعادت حاصل کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ کريم تقريباً 100 ته نزدې آيتونه دي،د کومو نه کښې چې د عقيده ختمِ نبوت ثابتيږي، په هغې کښې يو دا آيت مبارک هم دے چې بالکل په صفا الفاظو ډير په واضِحه انداز سره پکښې د ختمِ نبوت عقيده بيان شوې ده۔

## د آيت مبارک شانِ نزول

د آيت مبارک شانِ نزول څۀ داسې دے چې حضرت زيد بن حارثه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې صحابئ رسول دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لا د نبوت اِعلان هم نۀ وو فرمائيلے، د دې نه مخکښې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت زيد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته خپل ځوي وئيلے وو۔

زمونږ په شريعت کښې چې چاته صرف خُله باندي ځوے ووئيلے دهغي حيثيت جُدا دے او د خپل سَکه ځوي حيثيت جُدا دے، د دې دواړو حکمونه هم جُدا جُدا دي، د پردې په معاملاتو کښې، د وراثت وغيره په معاملاتو کښې چې چا ته صرف په خُلهٔباندي ځوي وئيلے شوي وي هغه هيڅکله د سَکه ځوي برابر نۀ دے خو د جهالت په زمانه کښې دا خيال کيدو چې خلقو به په خُله وئيلے شوے ځوي هم سَکه ځوي ګڼلو - د دې وجې نه به خلقو حضرت زيد رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته زيد بن مُحَمَّد وئيلو- کله چې اِسلام راغلو نو که يو طرف ته يې نور ډير ګناهونه ختم کړل نو بل طرف ته يې د جهالت دا غلطه نظريه هم ختمه کړه، په سُورۀ احزاب کښې باقاعده طور په تفصيل سره دا بيان کړے شوي دي چې په خُله وئيلے شوے ځوي د سَکه ځوي په شان نۀ دے- په دې باره کښې دا آيت مبارک هم نازل شو، (1) اللّٰه پاک فرمائي:

---

1…تفسيرِ کبير، پاره:22، الاحزاب، زيرِ آيت:40، جلد:9، صفحه:171 خلاصةً۔

مَاكَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ
(پارہ:22، سورۂ الاحزاب:40)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: مُحَمَّد ستاسو پهٔ سړو كښې د چا پلار نهٔ دے۔

رِجَالٌ د رَجُلٌ جمع ده، د رَجُلٌ معنیٰ وي: سړے۔ وړوکي ماشوم ته پهٔ عربی کښې صَبِیٌّ یا غُلَامٌ وئیلے شي، کوم چې د زیات عمر کَس وي، هغه ته رَجُلٌ وئیلے شي۔ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته رَبِّ کریم درې ځامن عطا کړل: (1): حضرت قاسِم (2): حضرت عبد الله (3): او حضرت اِبراهیم رَضِیَ اللہُ عَنْہُم۔ دې دریو واړو شهزادګانو هم پهٔ ماشومتوب کښې د دُنیا نه پرده فرمائیلې وه، پهٔ دوئي کښې یو هم دې عمر ته نهٔ وو رسیدلے چې هغوئي ته رَجُلٌ ووئیلے شي۔ ځکه یې وفرمائیل چې اے خلقو! تاسو حضرت زید رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زمونږ د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سَکه ځوي ګڼې، هغوئي پهٔ زید بن مُحَمَّد سره رابلې حالانکې رښتیا دا دي چې مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ تاسو کښې د یو سړي هم پلار نهٔ دے۔ زید بن حارثه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هغوئي حقیقي نهٔ بلکې پهٔ خُله وئیلے ځوي دے۔ [1]

نُور فرمائي:

وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ؕ
(پارہ:22، سورۂ الاحزاب:40)

ترجمهٔ كنزُ العِرفان: خو د الله رسول دے او د ټولو نبیانو نه پهٔ اخره کښې تشریف راوړونکے دے۔

یعني زمونږه خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سړو کښې د چا سَکه پلار نهٔ دے خو پهٔ روحاني توګه تر قیامته پورې د راتلونکو ټولو مسلمانانو د پاره د پلار نه هم ډیر زیات دے، هغوئي د الله پاک رسول دے او پهٔ ټولو نبیانو کښې اخري نبي دے۔ [2]

فتحِ بابِ نبوت پہ بے حد درود | ختمِ دورِ رسالت پہ لاکھوں سلام (3)

---

[1]... تفسیرِ کبیر، پارہ:22، الاحزاب، زیرِ آیت:40، جلد:9، صفحه:171 خلاصةً۔

[2]... تفسیرِ کبیر، پارہ:22، الاحزاب، زیرِ آیت:40، جلد:9، صفحه:171 خلاصةً۔

3... حدائقِ بخشش، صفحه:296۔

**وضاحت:** اے هغه ذاته په کوم باندې چې د نبوت دروازه برسیره کړے شوه، یعنې کوم ته چې د ټولو نه وړومبے د نبوت تاج عطا کړے شو (په حدیثِ پاک کښې دي: كُنْتُ نَبِيًّا وَ آدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ وَ الْجَسَدِ زۀ هغه وخت هم نبي ووم، چې لا آدم عَلَيْهِ السَّلَام د رُوح او وجود ترمینځه وو [1]) په تاسو باندې دې بے حده درود وي او اے هغه ذاته په کوم باندې چې رسالت ختم کړے شو چې تاسو اخري نبي او اخري رسول راولیږلے شوئ، په تاسو باندې دې په لکونو سلامونه وي۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفےٰ | د ټولو آخري نبي | احمدِ مجتبیٰ | د ټولو آخري نبي |
| ګران د آمنه | د ټولو آخري نبي | سردارِ دو جهان | د ټولو آخري نبي |
| تاجدارِ انبیا | د ټولو آخري نبي | دے حبیبِ کبریا | د ټولو آخري نبي |
| عقیده د صحابه! | د ټولو آخري نبي | د اهلِ بیتو عقیده! | د ټولو آخري نبي |
| د غوثِ پاک عقیده! | د ټولو آخري نبي | عقیده د اولیاء! | د ټولو آخري نبي |
| نعره د ځوان او بوډا | د ټولو آخري نبي | د هر ماشوم نعره | د ټولو آخري نبي |
| عقیده ده د رضا | د ټولو آخري نبي | د عطّار ده نعره | د ټولو آخري نبي [2] |

## په حدیثونو کښې د ختمِ نبوت بیان

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** وګورئ چې په قرآنِ کریم کښې څومره د وضاحت سره او بالکل په صفا صفا الفاظو کښې وئیلے شوي دي چې **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د ټولو اخري نبي دے**، د هغوئي نه پس تر قیامته پورې څوک نوے نبي نۀ شي راتللے۔

[ نبوت په محمد باندې تمام شو

نشته پس د محمده انبیا (عبد الرحمان بابا)]

---

1 ... مصنف ابن شیبه، کتاب المغازی، ما جاء فی مبعث النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، 438/8، حدیث:1۔

2 ...وسائلِ فردوس، صفحه:5251۔

دغه شان پهٔ حدیثونو کښې هم د ختمِ نبوت عقیده ډیره پهٔ وضاحت سره بیان کړے شوې ده، راځئ چې 4 حدیثونه مبارک واورو:

## (1): لوحِ محفوظ او د عقیده ختمِ نبوت

د **حدیثِ پاک** په مشهور کتاب **مسلم شریف** کښې دي: د الله پاک اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: الله پاک د زمکې او اسمان د پیدائش نه 50 زره کاله مخکښې د مخلوق تقدیر ولیکو، هُغه وخت په لوحِ محفوظ باندې چې څهٔ ولیکلے شول، پهٔ هغې کښې دا هم وو: اَنَّ مُحَمَّدًا خَاتَمُ النَّبِیّٖن بے شکه مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو اخري نبي دے۔ (1)

محمدِ مصطفےٰ! سب سے آخری نبی!
آمنہ کا لاڈلا! سب سے آخری نبی!
احمدِ مجتبیٰ! سب سے آخری نبی!
شاہِ ہر دوسرا! سب سے آخری نبی! (2)

## (2): د نُوراني محل اخرۍ خخته

د **حدیثِ پاک** پهٔ مشهورو کتابونو: **بخاری**، **مسلم**، **ترمذی** او **مسندِ احمد** کښې دي: د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: زما او زما نه د مخکښینو انبیاؤ مثال د هُغه کَس پهٔ شان دے کوم چې یو ډیر ښکلے او ښائسته کور جوړ کړو خو د دې پهٔ یو کوټ کښې یـې د یوې خختې ځائے پریښودو، خلق د دې نه ګیر چاپیره ګرځیدل او پهٔ حیرانتیا سره یـې ووئیل چې دهٔ دا خخته ولې نهٔ ده کیښودې، بیا نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: زهٔ هُغه (اخري) خخته یم او پهٔ نبیانو کښې اخري نبي یم۔ (3)

---

1 ... مسلم، کتاب القدر، باب حِجاج آدم و موسیٰ علیهما السّلام، صفحه:1023، حدیث:2653۔
2 ... وسائلِ فردوس، صفحه:51۔
3 ... بخاری، کتاب المناقب، باب خاتم النبیین، صفحه:903، حدیث: 3535۔

په بَل روايت کښې دي: د دې خختې ځائے (ډَکَوَلو والا) زهٔ يم، زهٔ چې راغلم نو ما د نبيانو (سلسله) ختمه (يعني مکمل) کړه۔ (1)

مفتي احمد يار خان نعيمي رَحمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې ليکلي دي: سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے مثال دے، نبوت لکه چې نوراني محل دے، انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام لکه چې د دې نوراني خختې دي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لکه چې د دې محل اخري خخته ده، پهٔ کومه چې دا عمارت پوره شو، د دې نه معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي دے، د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ زمانه کښې يا د هغوئي نه پس بَل هيڅ نبي نشته۔ (2)

ہیں وہ قصرِ نبوت کی اینٹ آخری
قولِ شاہِ دنا، خاتمُ الانبیا

## (3): زما نه پس بل نبي يا رسول نشته

د حضرت اَنس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د دوارو جهانو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: بے شکه رسالت او نبوت ختم شو، اوس زما نه پس نهٔ څوک رسول شته نهٔ څوک نبي۔ (3)

## (4): زما نه پس بَل هيڅ يونبي نشته

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل زهٔ بيمارووم، د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خدمت کښې حاضر شوم، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زهٔ پهٔ خپل ځائے ودرولم او پخپله پهٔ نـمونځ کښې مصروف شو، بيا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل څادر مبارک څهٔ حصه پهٔ ما باندې واچوله، (د

1 ... مسلم، کتاب الفضائل، باب ذکر کونه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ...الخ، صفحه:901، حديث:2287۔
2 ... مرآة المناجيح، جلد:8، صفحه:7 بتغير قليل۔
3 ... ترمذی، کتاب الرؤيا عن رسول الله، باب ذهبت النبوّة وبقيت المبشرات، صفحه:546، حديث:2272۔

نـمونځ نه پس يـې) وفرمائيل: اے علي! تهٔ ښهٔ شوې، پهٔ تا هيڅ تـکليف نشته، ما چې د الله پاک نه څهٔ د ځان د پاره وغوښتل، ستا د پاره مې هم وغوښتل او ما چې څهٔ وغوښتل، الله پاک ما ته راعطا کړل خو ما ته دا وفرمائيلے شو چې لَانَبِیَّ بَعۡدَكَ يعني اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو نه پس بَل نبي نشته- حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: زهٔ هٰغه وخت داسې روغ شوم لکه چې هډو بيمار نهٔ ووم- (1)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ډير مشهور، ډير مختصر او د ختمِ نبوت د عقيدې بالکل واضِحه او صفا صفا بيانوونکے ډير ښکلے حديثِ پاک دے: لَانَبِیَّ بَعۡدِی زما نه پس هيڅ يو نبي نشته- بالکل هم داسې الفاظ يا د دې پشان ، د دې معنې او مفهوم والا الفاظ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل نهٔ بلکې بيا بيا، پهٔ څو موقعو باندې ارشاد فرمائيلي دي- ځکه کوشش پکار دے چې دا مختصر شان حديثِ پاک مونږ ته پخپله هم يادول پکار دي او خپلو بچو ته هم يادول پکار دي، حديث شريف دے: لَانَبِیَّ بَعۡدِی زما نه پس بَل هيڅ يو نبي نشته- (2)

خُود میرے نبی نے بات یہ بتا دی: لَا نَبِیَّ بَعۡدِی!
ہر زمانہ سُن لے یہ نوائے ہادِی: لَا نَبِیَّ بَعۡدِی!

## وور پرې بالکل اثر اونهٔ کړو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قرآني آيتونو او د دې حديثونو نه ثابتيږي چې د ختمِ نبوت عقيده بالکل رښتوني او واضحه عقيده ده، پهٔ دې کښې هيڅ قِسمه پټ پنها څهٔ نشته، نهٔ پهٔ دې کښې د څهٔ بلې رائے ځائے شته- اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! هم د شروع نه مسلمانان پهٔ دې عقيده باندې قائِم دي بلکې پهٔ تاريخ کښې چې کوم يو بد بخته هم پهٔ دې عقيده باندې د ډاکې

1 ... کنز العمال، کتاب الفضائل، فضائل الصحابه، جز:13، جلد:7، صفحه:74، حديث:36509-
2 ... مسلم، کتاب الامارة، باب وجوب الوفاء ببيعة الخلفاء الاول فالاول، صفحه:739، حديث:1842 -

اچولو، د نبوت د دروغو دعوې کولو جرأت کړے دے، په هر دور کښې مسلمانانو هغوئي ته د خپل ايمان په طاقت د ورځې د اسمان ستوري ښودلي دي- د مسلمانانو د ړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د دورِ خلافت خبره ده، د يمن يو بد بخته وو، کوم ته چې اَسود عنسي وئيلے کيدو، دغه بد بخته د نبوت د دروغو دعویٰ کړې وه او د خپل دروغژن نبوت تبليغ به يې کولو، تر څۀ وخته پورې په يمن کښې د دۀ فتنه خوريدله، دۀ به په خلقو باندې ظلمونه کول او هغوئي به يې مجبوره کول او خپله کلمه به يې پرې وئيله-

حضرت ابو مسلم خولاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم ته چې د دې اُمت حکيم (يعنې ډير عقلمند او هوښيار کس) وئيلے شوے دے، (1) هغوئي تابعي دے، هغوئي هم په يمن کښې اوسيدل- يوه ورځ اَسود عنسي هغوئي په زوره د ځان خوا ته وبللو او پوښتنه يې ترينه وکړه: آيا تۀ ګواهي ورکوې چې مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د الله رسول دے؟ اوئې فرمائيل: آؤ، بالکل- (حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک رښتونے نبي دے، زما آقا دے، زۀ په هغوئي باندې ايمان لرم-) اَسود بيا پوښتنه وکړه: آيا تۀ ګواهي ورکوې چې زۀ د الله رسول يم؟ هغوئي (ډير په سادګۍ سره) وفرمائيل: ما نۀ دي اوريدلي چې تۀ څۀ وائې- په دې اوريدو اَسود عنسي له سخته غصه ورغله، هغه فوراً حکم جاري کړو چې يو لوئي او خطرناک وور بَل کړئ- د هغه مرستيالو فوراً وور بَل کړو- بيا يې حکم وکړو: ابو مسلم دې په دې بَل کړے شوي وور کښې واچولے شي- نو هغوئي هُغه بَل کړے شوي خطرناک وور ته واچولے شو-

خو واه! سُبْحٰنَ الله! لکه څنګه چې الله پاک د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د پاره وور يخ او د سلامتۍ والا جوړ کړے وو، هم داسې د ابو مسلم خولاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پاره هم وور د سلامتۍ والا جوړ کړے شو، د الله پاک په فضل هغوئي د وور نه صحيح سلامت بهر تشريف راوړو- دا حيرانيدونکے منظر چې يې وليدو نو د اَسود عنسي سره د خپل

---

1... حلية الاولياء، جلد:2، صفحه:145-

دروغژن نبوت فِکر شو، د هغه سره ویره شوه چې که دا معامله مشهوره شوه نو خلق به هیڅکله زما نبوت نۀ مني، نو هغه ابو مسلم خولاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د وطن نه وویستو او هغوئي مدینے منورې ته حاضر شول- (1)

## د عقیده ختمِ نبوت اهمیت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا خبره همیشه یاد ساتئ چې د عقیده ختمِ نبوت څۀ د معمولي اهمیت والا عقیده نۀ ده بلکې دا د دِین د ضروریاتو نه ده یعني پۀ اِسلام کښې چې کوم اهمیت د عقیده توحید دے، هم هُغه اهمیت د عقیده ختمِ نبوت هم دے، د مسلمانیدو د پاره چې څنګه د لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا الله اِقرار کول ضروري دي، هم دغه شان خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخري نبي منل هم ضروري دي- کلمه طَیبه د کومې د لوستلو سره چې کافِر مسلمانیږي لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ الله پۀ دې کلمه کښې چې کوم مُحَمَّد لفظ دے، د دې نه بَل څوک نۀ بلکې د خدائے هُغه خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُراد دے، د چا پۀ سر باندې چې رَبِّ کائنات د خَاتَمُ النَّبِیّٖن تاج کیښودے دے، لهذا کوم بنده چې کلمه طیبه خو ووائي خو حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخري نبي اونۀ مني، هغه چرې، چرې هم مسلمان نۀ شي کیدے-

بعد آپ کے ہرگز نہ آئے گا نبی نیا | واللہ ! اِیماں ہے مرا، اے آخری نبی

*—*—*—*

عقیدہ سب صحابہ کا ! سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا ! سب سے آخری نبی!
نظریہ غوثِ کا ! سب سے آخری نبی! | اَولیا کا نظریہ ! سب سے آخری نبی! (2)

1... حلیة الاولیاء، جلد:2، صفحه:150 151 ملتقطًا-
2... وسائلِ فردوس، صفحه:85-

# د ختمِ نبوت نه د منکرو خلقو عبرتناک انجام

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاريخ ګواه دے چې چا هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ختمِ نبوت نه اِنکار کړے دے او په دې يې د ډاکې اچولو کوشش کړے دے، د هغوئي انجام ډير عبرتناک شوے دے، په اخرت کښې چې د هغوئي د پاره کوم ذِلَّت دے، هغه خو هسې هم دے، اللّٰه پاک داسې خلق په دُنيا کښې هم ذليله او رسوا کوي-

## قبر يې وچاودو

د ډيره غازي خان په **اِلٰه آباد** علاقه کښې يو ګُستاخ او بکواس کوونکے انسان اوسيدو چا چې صرف د ختمِ نبوت نه انکار نۀ کولو بلکې چې چرته به ورته هم موقع ميلاويدله، د خپلې غلطې عقيدې تبليغ به يې هم شروع کولو، د ختمِ نبوت د عقيدې په باره کښې به يې ډير بکواس کولو، اللّٰه پاک ته خو مخامخ کيدل دي، هُغه بدبخته هم مُردار شو، يوه ورځ دا هم دغه شان د ختمِ نبوت د عقيدې په باره کښې په بکواس کولو مُردار شو- کوم خلق چې د هغۀ هم خياله وو، د هغۀ په شان عقيدې يې لرلې، هغوئي د هُغه ګستاخ د مسلمانانو په هديره کښې د ښخولو پټ پروګرام جوړ کړو خو د دې نه مسلمانان خبر شول، مسلمانانو د علاقې د پوليسو سره رابطه وکړه او هغوئي يې د مسلمانانو په هديره کښې د ښخولو نه منع کړل- نو هُغه ګستاخ په يو ځانله ځائے کښې ښخ کړے شو، چې کله خنګ قبر ته کوز کړے شو، خلق لا واپس راروان وو چې په قبر کښې وور بَل شو، د هغۀ د قبر نه پورته کيدونکې د وور لمبې تر دريو ورځو پورې ښکاريدلې، خلقو به هغې ته کتل او عبرت به يې حاصلولو، اخر درې ورځې پس قبر وچاودو او هلته يوه ډيره ژوره کنده جوړه شوه- خبر خور شو او خلق به د ډير د لرې لرې نه د هُغه عبرتناک منظر ليدلو د پاره راتلل، اخر هُغه کنده د کاڼو ته ډکه کړے شوه-

وہی دُھوم اُن کی ہے ما شآءَ اللہ! | مٹ گئے آپ مٹانے والے[1]

*-*-*-*

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفےٰ | د تپولو آخري نبي | احمدِ مجتبیٰ | د تپولو آخري نبي | | |
| ګران د آمنه | د تپولو آخري نبي | سردارِ دو جهان | د تپولو آخري نبي | | |
| تاجدارِ انبیا | د تپولو آخري نبي | دے حبیبِ کبریا | د تپولو آخري نبي | | |
| عقیده د صحابه! | د تپولو آخري نبي | د اهلِ بیتو عقیده! | د تپولو آخري نبي | | |
| د غوثِ پاک عقیده! | د تپولو آخري نبي | عقیده د اولیاء! | د تپولو آخري نبي | | |
| عقیده ده د رضا | د تپولو آخري نبي | د عطّار ده نعره | د تپولو آخري نبي[2] | | |

## کله چې د یو قادیاني قبر وخپړدلے شو

د پاکستان د تونسه شریف ښار واقعه ده- یو ډیر مالداره قادیانے وو (قادیانے هغوئي ته وئیلے شي څوک چې مرزا غُلام احمد قادیاني نبي ګڼي، هغوئي ته مرزائي او احمدي هم وئیلے شي، قادیانیان د ختمِ نبوت نه منکر او کافِران او مُرتدان دي، چې کله دا قادیانے مړ شو نو) قادیانیانو هغه د مسلمانانو د جومات پۀ انګړ کښې (یعني د نـمونځ کولو د ځائے نه اخو په چار دیوارئ کښې دننه) ښخ کړو- مسلمانانو له پۀ دې خبره باندې ډیر غیرت ورغلو چې یو قادیانے کوم چې د تاجدارِ ختمِ نبوت منکر وي، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګستاخ وي، هغه دې د مسلمانانو د جومات پۀ چار دیوارئ کښې دننه ښخ کړے شي- نو د حکومتي ادارو نه غوښتنه وکړے شوه چې هُغه مُرتد دې فوراً د جومات نه ویستلے شي- د ډیر محنت نه پس اخر د مسلمانانو غوښتنه ومنلے شوه او حکومت حکم وکړو چې هغه دې د جومات نه ویستلے شي او چرته بل ځائے دې ښخ کړے شي- بیا د هغه قبر وخپړدلے شو-

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:161۔

2...وسائلِ فردوس، صفحه:5251۔

الله! الله! څنګه چې د هٔغه بد انجامه قبر وخپړدلے شو نو ډېر سخا بوئي ترې راخور شو او پهٔ ټوله علاقه کښې خور شو، دومره سخا بوئي وو چې پهٔ خلقو باندې يې سرونه وچورلول او د خلقو د سترګو نه اوښکې رواني شوې- د خلقو الغاؤ تلغاؤ شروع شو- ډېر مُردار او ګنده مړے چې کله د قبر نه بهر راويستے شو نو قبر کنستونکي هم ويريدل- خير څهٔ پهٔ چل وَل يې مُردار مړے راويستو او قاديانيانو ته يې حواله کړو- بيا قاديانيانو هغه د يو کور پهٔ انګړ کښې ښخ کړو- د هغه سخا بوئي لا خوريدلو، پهٔ يو څو ورځو کښې پهٔ کور کښې داسې سخا بوئي شو چې اوسيدل پکښې ګران شو- اخر قاديانيان تنګ شو او هغه يې د هٔغه ځائے نه هم ويستو او چرته لرې يې پهٔ پټو کښې ښخ کړو- د دې منظر پهٔ خپلو سترګو ليدونکي وائي: چې کله پهٔ دويم ځل هٔغه د ختمِ نبوت منکر راويستے شو نو د هغه سخا بوئي پهٔ ميلونو لرې پورې خور شو او خلقو تر ډېرو ورځو پورې هٔغه سخا بوئي محسوسولو- دا عبرتناکه واقعه چې يې وليدله نو ډېر قاديانيان مسلمانان شول، پهٔ کومو کښې چې بعضې د مړي د خاندان خلق هم شامل وو-

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُحَمَّدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی! |

## قبر د مارانو نه ډک شو

دغه شان د سيالکوټ يوه واقعه ده، هلته رمضان نومې يو ګس وو چا چې به قبرونه کنستل، د هغهٔ وينا ده چې يوه ورځ زما خوا له څهٔ قاديانيان راغلل او ما ته يې د قبر کنستو د پاره ووئيل، ما ته معلومه نهٔ وه چې قاديانيان خوک دي؟ ځکه ما قبر وکنستو، چې کله هٔغه قاديانيانو خپل مړے د ښخولو د پاره راوړو نو ما او هلته کښې موجودو خلقو

پهٔ خپلو سترګو باندې وليدل چې ناڅاپه قبر د مارانو نه ډک شو، پهٔ يو پسې بَل مار پته نهٔ لګي چې د چرته نه راتللو، هُغه وخت طوفان هم شروع شو او د دې سره سره د قبر نه د وور لمبې هم راختلې-

بيا هُغه قاديانيانو ما ته د يو بَل قبر کنستو ووئيل، ما پهٔ يو بَل ځائے کښې کدائي وکړه، چې ځنګه پهٔ هُغه قبر کښې هُغه ګستاخ قاديانے کيښودے شو نو د قبر نه ډير وحشت ناک اوازونه راتلل شروع شول، د کومو د اوريدو سره چې ټولو مړے هم هلته پريښودو او د ويرې نه وتښتيدل، تر دې پورې چې د مړي اولاد هم وتښتيدو- د هُغه ګستاخ مړے تر دريو ورځو پورې هم داسې پهٔ هديره کښې پروت وو، اخر خلقو پهٔ هغه باندې خاورې واچولې او هغه يې پټ کړو-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا دے د ختمِ نبوت نه د منکرو خلقو عبرتناک انجام--!! اصلي عذاب خو به هُغه وي، کوم چې به د قيامت پهٔ ورځ هغوئي له ورکولے شي، البته الله پاک بعضې وخت د داسې خلقو انجام پهٔ دُنيا کښې واضحه کوي چې خلق ترينه عبرت حاصل کړي او د داسې ګستاخو نه هميشه د پاره بچ شي-

الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم وکړي، زمونږ دې د ختمِ نبوت پهٔ عقيده باندې او پهٔ ټولو اِسلامي عقيدو باندې اِستقامت نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د قاديانيانو چالونه

ياد ساتئ چې قاديانيان د ختمِ نبوت نه اِنکاري دي، مرزا غُلام احمد نبي مني، د قرآنِ کريم نه هم مُنکر دي، د حديثونو نه هم منکر دي، د ډيرو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام او خاص طور زمونږ د خوږ آقا او مولیٰ، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير زيات ګستاخان دي، دا بدبخته د مسلمانانو غولولو د پاره د ډيرو چالونو نه کار اخلي- د يو رپورټ مطابق دا وخت پهٔ دُنيا کښې چې د اِسلام او د مسلمانانو خلاف کومه لابي (***Lobby***) د

ټولو نه زيات کار کوي، هغه قاديانيان دي- ❁ دا بد انجامه د ميډيکل سهولتونه (*Medical Facilities*) ورکوي ❁ مفت علاج (*Free Medical Treatment*) کوي ❁ خوراک څښاک ورکوي ❁ د خير ښيګړې (*Public Welfare*) (يعنې د خير خواهۍ والا) کارونه کوي ❁ په خلقو باندې کاروبار (*Business*) کوي ❁ د ګرانو ملکونو ويزې ورکوي، داسې د دُنيا لالچ ورکوي ، د خلقو د غريبۍ نه ناجائزه فائده اخلي او ساده باده مسلمانان راګيروي او په ورو ورو هغوئي قاديانيان کوي- عام خلق څوک چې د دِين نه زيات خبر نۀ وي، هغوئي ډير په اسانه د دوئي په جال کښې راګيرېږي او خپل ايمان بربادوي- ځکه د خپل ايمان بچ کولو د پاره په مونږ ټولو باندې لازم دي چې مونږ پخپله هم دِين زده کړو، خپلو بچو ته يې هم وښايو، زمونږ د ټولو په دِيني، اِيماني ذمه وارو کښې د ټولو نه اهمه ذمه واري (*Responsibility*) ده چې مونږ د خپلو بچو رګ رګ ته د ختمِ نبوت عقيده کوزه کړو- خپل کور والؤ ته، بچو ته، خوريونو، وريرونو ته، غرض هر يو هغه ماشوم ته کوم چې خبرې کولے شي، هغوئي ته دا عقيده داسې رَټه کړو چې هغوئي د خوب نه هم راويښ کړے شي او پوښتنه ترينه وکړے شي نو هغوئي هم دا يوه نعره ولګوي چې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| مُحَمَّدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبٰی! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ غوثِ پاک کا! | سب سے آخری نبی! | اَولیا نے بھی کہا! | سب سے آخری نبی! |
| ہے عقیدہ رضا! | سب سے آخری نبی! | نعرہ ہے عطّار کا! | سب سے آخری نبی! |

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا ډيرې ښکلې نعرې ورکړې دي، دا نعرې خپلو بچو ته يادې کړئ، د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده: سب سے آخری نبی- دا رساله د مکتبة المدينه نه حاصله کړئ! په کور کښې د دې

نه دَرس ورکړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! ډیر معلومات به درته حاصل شي او که الله پاک وغوښتل نو د ایمان د حفاظت ذریعه به هم جوړه شي-

## ځان یـې قربان کړو خو ایمان یـې خرڅ نۀ کړو

مسیلمه کذّاب نومې یو بدبخته وو، چا چې د تاجدارِ ختمِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند مبارک کښې د نبوت د دروغو دعویٰ کړې وه، یو ځل هُغه بے مُهارا [مسلیمه کذاب] صحابئ رسول حضرت حبیب بن زید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ گرفتار کړو- مسیلمه کذاب د حضرت حبیب بن زید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه: اَتَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَسُوْلُ الله آیا تۀ گواهي ورکوې چې مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د الله رسول دے- اوئې فرمائیل: بالکل زۀ گواهي ورکووم چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله رسول دے- مسیلمه بیا پوښتنه وکړه: اَتَشْهَدُ اَنِّیْ رَسُوْلُ الله؟ آیا تۀ گواهي ورکوې چې زۀ د الله رسول یم؟ اوئې فرمائیل: **زما غوږونه ستا د دې خبرې اوریدو د پاره کاڼه دي**- مسیلمه چې دا خبره واوریدله نو غصه ورغله، نو د هغه په حکم باندې د حضرت حبیب بن زید رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یو مَټ کټ کړے شو- مسیلمه بیا خپله هُغه پوښتنه وکړه: اَتَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَسُوْلُ الله آیا تۀ گواهي ورکوې چې مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله رسول دے- اوئې فرمائیل: آؤ، بالکل زۀ گواهي ورکووم چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله رسول دے- بیا یـې پوښتنه وکړه: اَتَشْهَدُ اَنِّیْ رَسُوْلُ الله؟ آیا تۀ گواهي ورکوې چې زۀ د الله رسول یم؟ اوئې فرمائیل: **زما غوږونه ستا د دې خبرې اوریدو د پاره کاڼه دي**- بیا د هغوئ دویم مټ هم کټ کړے شو، مسیلمه بیا خپلې پوښتنې وکړې، بیا هم هغوئ خپل هُغه جوابونه ورکړل- نو د هغوئ یو ښپه هم کټ کړے شوه، بیا مسیلمه هُغه پوښتنې وکړې-

بیا د هغوئ دواړه مَټې د اوګو پورې کټ شوې وې، یوه ښپه یـې هم کټ کړے شوې وه، د بدن نه یـې وینه بهیدله، ډیر په تکلیف کښې وو خو قربان شم! ایماني جذبه وه چې بیا هم کمزورے نۀ شو، هغوئ د خپل پوره جرأت سره بیا هم هُغه جوابونه ورکړل، بیا

د هغوئي دويمه ښپه هم کټ کړے شوه، [1] پهٔ **يو روايت** کښې دي: اخر مسيلمه کذّاب هغوئي وورته وغورځولو او شهيد يــې کړو، هغوئي تر اخري وخته پورې هم دغه وئيل چې زهٔ مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله رسول منم خو اے مسيلمه! تهٔ د الله رسول يــې، د دې خبرې اوريدو د پاره زما غوږونه کاڼه دي- [2]

سُبْحٰنَ الله! دا ده ايماني جذبه--!! الله پاک دې مونږ ته هم داسې جذبه راعطا کړي- قاديانيان چلونه کوي، پهٔ قِسما قِسم خبرو کولو، د اُلټا پلټا دليلونو پهٔ ورکولو د کم عِلمه مسلمانانو د غولولو کوشش کوي، پهٔ ايمان باندې ډاکې اچوي، د دوئي د دې فتنې نه د بچ کيدو هم صِرف يوه طريقه ده، هٔغه کومه چې حضرت حبيب بن زيد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِختيار کړله، هغوئي صفا صفا وفرمائيل: اے مسيلمه! تهٔ نبي يــې، زما غوږونه د دې خبرې اوريدو د پاره کاڼه دي- يعني دا خبره سل فيصده فائنل ده چې مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اخري نبي دے، بس! د دې نه پس زهٔ هډو بَله خبره اورم نهٔ -

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفے | د تېولو آخري نبي | احمدِ مجتبیٰ | د تېولو آخري نبي |
| کړان د آمنه | د تېولو آخري نبي | سردارِ دو جهان | د تېولو آخري نبي |
| تاجدارِ انبيا | د تېولو آخري نبي | دے حبيبِ کبريا | د تېولو آخري نبي |
| عقيده د صحابه! | د تېولو آخري نبي | د اهلِ بيتو عقيده! | د تېولو آخري نبي |
| د غوثِ پاک عقيده! | د تېولو آخري نبي | عقيده د اولياء! | د تېولو آخري نبي |
| عقيده ده د رضا | د تېولو آخري نبي | د عطّار ده نعره | د تېولو آخري نبي (3) |

اَلْحَمْدُلِلّٰه! شيخ الاسلام و المُسلمين سيدي اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ

---

1 ...اسد الغابه فی معرفة الصحابه، جلد: 1، صفحه: 675-

2 ...تاريخ الخميس، الخاتمه، الفصل الثانی من الخاتمه، جلد: 3، صفحه: 196-

3 ...وسائلِ فردوس، صفحه: 5251-

هم تړول عمر د ختمِ نبوت د عقيدې څوکيداري کړې ده، قاديانيانو او بعضو نورو بد مذهبو د لفظ خَاتَمُ النَّبِيّٖن د ډېرو تاوِيلونو کوشش وکړو، د دې لفظ هُغه معنې کومې چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيان کړې دي، په هغې باندې يـې اعتراضونه وکړل نو د الله پاک په فضل سره دا هُم اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وو، چا چې د هغوئي د اعتراضونو ډېر عِلمي جوابونه ورکړل، هغوئي د ختمِ نبوت په عقيده باندې ډېر کتابونه ليکلي دي او په هغې کښې يـې دومره دليلونه ورکړې دي چې لوستل يـې ډېره مزه کوي-

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو کمال دا هم دے چې هغوئي ډېر په ښکلي انداز صرف په يو شعر کښې د ختمِ نبوت ټوله عقيده بيان کړې ده، هغوئي ليکلي دي:

نہ رکھی گل کے جوشِ حُسن نے گلشن میں جا باقی | چٹکتا پھر کہاں غُنچہ کوئی باغِ رسالت کا[(1)]

وضاحت: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: الله پاک حکيم دے ❀ د هغه يو کار هم بغير د حِکمت نه نۀ وي ❀ نبي رالېږل هم د حِکمت د لاندې وو ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس د يو نوي نبي ضرورت صرف په دې صورت کښې کېدے شي که د هغوئي په راوړے شوي دِين کښې څۀ کمے پاتې شوے وي خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هر لحاظ سره کامِل او اکمل جوړ کړے دے ❀ هغوئي ته چې يـې حُسن ورکړو نو دومره د کمال يـې ورکړو چې په زمانه کښې د چا نصيب نۀ شو ❀ هغوئي ته يـې اعلیٰ صفتونه عطا کړل نو دومره چې هډو ختميږي هم نۀ ❀ هغوئي له يـې چې معجزې ورکړې نو په کثرت سره يـې ورکړې بلکې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يـې سراسر معجزه جوړه کړه او را وه يـې لېږله ❀ د هغوئي اخلاق ربِّ کريم عظيم کړل ❀ هغوئي ته يـې داسې د کمال سيرت عطا کړو چې په دې کښې تر قيامته پورې د راتلونکو د پاره بهترينه نمونه موجوده ده ❀ هغوئي ته يـې شريعت عطا

---

1... حدائقِ بخشش، صفحه:37۔

کړو نو داسې چې پۀ دې کښې تر قیامته پورې د پیدا کیدونکو نوو نوو مسئلو حل موجود دے ❀ مخکښینو نبیانو ته چې یې کوم کتابونه او صحیفې عطا کړې ❀ پۀ هغې کښې خلقو د خپله ځانه بدلون وکړو ❀ د خپلې خوښې خبرې یې پۀ هغې کښې شاملې کړې خو تاجدارِ ختمِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته رَبِّ قدیر کتاب هم داسې عطا کړو چې تر قیامته پورې پۀ دې کښې د یوې نقطې هم بدلون ممکن نۀ دے ❀ غرض دا چې رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت د باغ هغه ښائسته ګل دے چې د دې ګل د راتوکیدو نه پس د نبوت پۀ باغ کښې اوس د نوي هیڅ یو ګل ضرورت هډو پاتې نۀ دے۔

| | |
|---|---|
| شہِ انبیا ہے، خُدا کا ہے پیارا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے |
| مُحَمَّد ہے احمد، ہے سلطانِ بطحا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے |

## د ماهنامه فیضانِ مدینه ایپلي کیشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا ماهنامه فیضانِ مدینه ایپلي کیشن معارفي کړے شوے دے، پۀ دې ایپلي کیشن کښې دا دوه بهترین آپشنز (***Options***) موجود دي: ❀ د مخکښینو ټولو ماهنامه فیضانِ مدینه ***PDF*** ❀ د ټولو ماهنامو مضامین (آرټیکلز) پۀ لیکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شیئر کیدے هم شي ❀ سرچ آپشن (***Search option***) پۀ کوم کښې چې پۀ ټولو ماهنامو کښې د سرچ کولو سره هر یو څیز لټولے کیدے شي ❀ ټول مضامین د موضوعاتو پۀ اعتبار سره ترتیب کړے شوي دي، پۀ خپل سمارټ فون کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ (***Download***) کړئ! پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

راځئ چې د بیان پۀ اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د جومات سامان د ذاتي ضرورت د پاره استعمالول جائز نهٔ دي-

**وضاحت:** خلق د جومات د ډنډې پکي، چټایانې، د اوبو والا پائپ، د جومات لوډ سپیکر، د جومات پوړۍ وغیره بعضې وخت د ذاتي کارونو د پاره اِستعمالوي، کله یې کورونو ته وړي، بیا یې وروستو واپس هم راوړي او چې کوم د جومات څیز اِستعمال کړي نو د هغې پهٔ بدله کښې د جومات د چندې بکس کښې پیسې واچوي، دا غلط انداز دے- یاد ساتئ چې د جومات څیزونه کوم چې هم د جومات د پاره دي، هغه د خپل کور وغیره د اِستعمالولو د پاره وړل شرعاً جائز نهٔ دي بلکې حرام او د ګناه کار دے- داسې کوونکي ګنهګاران وي، پهٔ دوئي باندې لازم دي چې د دې کار نه توبه کړي او بیا د پاره داسې هیڅکله هم نهٔ کوي- [1] پهٔ **بهارِ شریعت** کښې دي: د جومات د وړوکي نه یو وړوکے څیز هم بے موقعې او بے ځایه اِستعمالول جائز نهٔ دي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!   صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## یَا شَکُورُ

څوک چې 5 زره کرته یَا شَکُورُ لولي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د قیامت پهٔ ورځ باندې به یې

---

1...فتاوىٰ اہلسنت غير مطبوعه، فتاوىٰ نمبر: lar:8310

2...بهارِ شريعت، جلد:2، صفحه:562561، حصه:10-

اوچته مرتبه وي- (1)

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 ...مدنی پنج سوره، صفحه:251۔